آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۴/۲۶

# د باران په ژبه

خوشال څه و وې
خو چا وا نه وریدل
خوشال خپه
او زړه یې ډک له وینو
سر په کفن ننه ایست
او نن یې غږ بیا مونږ ور بولي
اوریدو ته
خو څوک غوږ نه لري
په کومه ژبه دغو خلکو ته خبرې وکړو
نه خو په خپله ژبه پوه شول
نه د پردی په ژبه
نه د انسان، نه د هوسۍ په ژبه
نه د څارویو، نه ایلې په ژبه
اوس هم لګیا یو د باران په پسته ژبه
ور ته بیا، بیا وایو
چې سر را پورته کړئ له خوبه
په تعلیم پسې لاړ شئ

۲۰۱۶/۱۱/۱۵
هیدرسلیف
ډنمارک




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ